مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: ع/ شیر زوی

۲۰۲۱/۰۴/۰۲

# په افغانستان کې د جګړې او نا امنیو مهم علتونه

## پنځمه برخه

### کورني عوامل

### د خود کفا اقتصاد نشتوالي:

هر ستراتیژۍ پلان د هیواد په سیاسي اقتصاد او نظامی برخو کې په زیربنایي اډانه کې اقتصاد او پیسو ته اړه لري، لکه چې جګړیز ماشین په خوزښت راځي نو لازمه ده چې اقتصادي لګښت يې پوره وي، او کله چې زیربنا را جوړېږي لازمه ده د هغې پیسې يې موجودي وي او کله چې کار خانه را منځ ته کیږي پانګه باید شتون ولري.که چیري د هريې ستراتیژي پلان را جوړېږي او اقتصادي ملا تړ ونه لري پلان په هوا کې او سترتیژي به د ناکامې او نا هیلې په لور حتمي درومي.

کله چې پدې پلان کار کیږي مخالفین او د هیواد دوښمنان باید له منځه ولاړ شي د دولت پلان او پریکړه همدا وي چې جګړیز لګښت د دولت په جیب کې دی، خو د پردیو پیسو په مرستودا پلان نه پلي کیږي ځکه د جګړې واک او اختیار د هغه چا په لاس کې وی چې د جګړې لګښت پرې کوي. پدې اړوند د هیواد ستونزه پدې راتوله ده چې د جګړې لکښت د سرتیرو معاشونه،اعاشه، ایباته، د جګړې دارو او داسې نور پوره کوي.

پدې توګه ویلي شو چې د امنیتي او دفاعی ځواکونو د جګړې له پاره کرایه شویدي، کوم سرتیرې چې پدې نظامی اډانه کې دنده تر سره کوي د معاش اخیستولو په موخه پدې چوکاټ کې کار کوی، یوه لږ.هکې ډله به وي چې په حقیقت کې د وطن، ولس، خاورې او ملی نوامیسو څخه دفاع کوي. بله ستونزه چې د نظام په دننه کې شته هغه قومی،ژبني،مذهبې، او سمتي سیالي دي، پدې بهیر کې یو تعداد افسران هم شتون لري چې د قرادادیانو سره څه پټې او ښکاره معاملې لری، او دا ناروا معاملې ددې سبب کیږي چې د سرتیرو د خوراکي او لوژیستکي موادو کې ادلون بدلون راولي او ورڅخه د افسرانو نا پاکه حق بیل کړي، چې دا کړنه نیغ په نیغه د سربازانو باندې منفی اغیزه کوي او جګړیز مورال يې را ټیټېږي.

### د ملی یووالی نشتوالی:

ملی یو والي په یوه هیواد کې د ښه او تل پاتې حکومت مظبوطی اواساسی ستنې رامنځ ته کوي، خو په تاسف سره چې زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې دې ذرین او طلایي اصل ته چا کار ندي کړي او يا که کار هم شویدی خورا په ټیټه کچه تر سره شویدي، که چیری نوموړې مسلې ته په ژوره توګه وکتل شی بیا هم ددې سترې ستونزې د نخ سر د بهرنیانو لاسو ته رسي.

چې پیرۍ پیرۍ يې ددې هیواد د مظلوم ولس سره په ښکل د اشکالو ظلم، تیرې، جفا، وژنې، جګړې او نور په سلونه غیری انساني کړنې تر سره کړي او لا هم دوام لری.څه د پخوا او لا څه اوس هر بهرنې هیواد د خپلو پلیتو موخو په خاطر زمونږ په ګران هیواد کې سر بازګیري کړی او نیابتي جګړې يې تودې ساتلي، هر بهرنې سفارتخانې دلته خپله د جاسوسی دستګاوې فعالی ساتلی چې دا مسله کوالای شو د تش په نامه مجاهیدنیو په وجود کې ژوندې مثال دی چې د پردیو په هدایت او دستوریې زمونږ ښکلي کابل ښار لوټې لوټې او پنځه اویا زره بی ګناه کابلیان يې شهیدان کړل، کابل او کابلیان يې د غم په ټغر کیښنولی او ثاني کربلا يې جوړه کړه، هیوادیې په مادی او معنوی لحاظ چور کړاو هر څه يې د خپلو بادارنو پښو ته کیښول.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

کومو ډلو او ټپلو چې زمونږ ښکلي هیواد یې وران او د خاورو سره خاورې کړدوي هغه حلقه به ګوش د پردو غلامان دي چې په هیواد کې د هغوي ګټو ته ژمن دي نه د خپل ټاټوبي ګټو ته پدې اړه ډیر زیاد مثالونه شتون لري چې ددې لنډې لیکنې د حوصلې څخه به بهروي.
د نړۍ زبرځواکو هیوادو ورک شوي ښاماران د بن په غونډې کې را پیدا او د افغانستان پر مظلوم هیواد یې وروتپل. ۴۵۰۰ چینه ټانکونه او ۶۰۰ وزرې الوتکې یې د ملا ربانی د واکمنې په وخت کې پاکستان ته وسپارلې چې د هر یوه څخه یې درې ټانکونه د نو ښار په فابریکې جوړ کړل، همدا اوس طالب د چا په پاسپورت بهرنیو هیوادو ته تګ راتګ کوي، ښاوخوا ۰۱۸۰ عرادی ملی بسونه چا پاکستان ته کباړ کړل او ۲۸۰۰ عرادی کاماز باروړونکې موټرونه چا ګاونډې هیواد ته نقل او دمترکونه یې ور څخه جوړکړل. همدا زبرزواکو هیوادو د لوستو خلکو لاسونه یې تر شاه وروتړل او مقابل لور ته یې د فساد، غضب، چور، قاچاق، او نورو ناروا‌و زمینه برابره کړه چې په پایله کې مارشالی، لوړ منزله کورونه او ډالرونه د همدو غُلو او چپاولګرو ته په ډالي کې ورکړل او ملت یې په پڅه چاړه حلال کړل.

**کاری ضعف، فساد، او د قانون نه پلې کیدل:**

د کار ماتوالی او فساد چې په دولتي او شخصی ګڼو ادارو کې شتون لری دا ددې سبب ګرځیدلي چې ولس د حکومت څخه واټن ونیسي او د عدالت د رامنځ ته کیدو په خاطر ولس مجبور دی چې نورې دروازې و ټکوي، په عدلی او قضایي محاکمو کې د ځینو دعواودوسیي د لسو څخه تر پنځه لسو کالو پورې هم ګرځنده او په دوران کې وي، د ددوسیې د پریکړې په هکله هیڅ څوک ځان مکلف نه بولي، زندانیان کلونه کلونه بی برخه لیک د تورو تمبو تر شاه شپې او ورځې تیروي، قانون د یوې ملی وثیقې په ډول په ټولو یو شان نه پلې کیږي هر څوک چې پیسې او پیژند ګلوي لري په هماغه اندازه قضایي پریکړي د هغوي په ګټه تما میږي. هغه کسان چې د خپلو ډګریو سره سره میاشتې میاشتې د دندې د موندلو پسې لالهانده ګرځي، دولتې مشرانوپه لوړو کرسو ډډه لګولي، د دو فکتورونو پرته نه دنده تر لاسه کیږي او نه هم د لوړو زدکړو زمینه برابریږي.
پدې برخو کې کوم دولتې سیستم شتون نه لري چې په ګڼو برخو کې د فساد، بی عدالتی، کاری ضعف، او د قانون د نه پلې کولو مخه ډب او مرتکیبنیو ته یې داسې سزا ورکړل شي تر څو د نورو لپاره د پند او د عبرت تومنه و ګرځي.

د پنځمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ